<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

## د غزې پر ښځو تېرى کېږي؛ څوک شته چې غږ يې واخلي؟ او که اسلامي امت خپل معتصم ورک کړی!؟

(ژباړه)

د ملګرو ملتونو يوه راپور کې راغلي چې په غزه کې اشغالګرو يهودي ځواکونو پر يو شمېر ښځو او نجونو تېرى کړی. د ملګرو ملتونو د بشر حقونو عالي کمېشنرۍ ويلي چې دوی په دې اړه راپورونو ته اندېښمن دي چې فلسطينۍ ښځې او نجونې د اشغالګرو يهودي ځواکونو له لوري نيول شوې او په بېلابېلو بڼو جنسي تېرى پرې کېږي. ملګرو ملتونو ويلي چې په غزه او لوېديځه غاړه کې د فلسطيني ښځو او نجونو د بشر حقونو تر پښو لاندې کېدو په اړه ګڼ مستند راپورونه شته. (قدس شبکه؛ ۲۰۲۴، فبروري ۱۹مه)

دا ډېره د شرم وړ خبره ده چې د ملګرو ملتونو د بشر حقونو عالي کمېشنري د دغه خبر په اړه يوازې «اندېښنه څرګندوي» او د هغو راپورونو په اړه يوازې «خواشيني دي» چې د اشغالګرو ځواکونو له لوري نيول شوې فلسطينۍ ښځې او نجونې بربندېږي، بې عزته او تلاشي کېږي.

دا د اسلامي امت لپاره لوی شرم دی چې د پانګوال نظم له بطن څخه راپورته شوي دغه نړيوال سازمانونه د يادو راپورونو په اړه اندېښنه او خپګان ښيي او اسلامي امت په دومره درانه خوب ويده دی چې دغه وحشتناکې صحنې او لوړ فريادونه يې نه راويښوي چې اقدام وکړي!

د شرم خبره ده چې دا نړيوال سازمانونه –چې د غزې جګړې ته يې اجازه ورکړه او خپل منافقت يې افشا کړ- يو ځل بيا خپله د درواغو اندېښنه او خواخوږي ښيي؛ په داسې حال کې چې پر مسلمانو ښځو تېرى کېږي او عزت يې لوټېږي؛ خو د امت د نرانو په رګونو کې وينه په جوش نه راځي!

دردوونکې ده چې له روانو پېښو سره د امت اړيکه پرې شوې او ډېره د خپګان خبره ده چې حکام روانې ټولوژنې ته ګوري خو پر وړاندې يې اقدام نه کوي. يهودي رژيم په لوړه، ظلم، د کورونو ويجاړولو، بېځايه کولو او نن بيا د ښځو په عزت تېري کولو سره د غزې خلک تحقيروي.

**اې اسلامي امته:** دا ستاسو خویندې دي چې مرسته مو غواړي؛ د دوی غږ ته ستاسو ځواب چېرته دی!؟ ستاسو نارینه چېرته دي او ولې چپ یئ!؟ که د جنایتکارانو له لوري ستاسو او ستاسو د لوڼو او ښځو عزت لوټول تاسو نه غوسه کوي، نو څه شی مو په غوسه کوي!؟ که د دوی چغې او زارۍ تاسو په حرکت نه راولي؛ نو څه شی مو په حرکت راولي!؟

**اې اسلامي امته:** غزه ویجاړېږي؛ دا ټولوژنې ورځ تر بلې ناوړه کېږي؛ خو د امت نارینه هسې ورته ناست دي! که د غزې د شهیدانو په رګونو کې وینه بیا راغلې وی، نو پورته شوي به وی او د خپل عزت دفاع به یې کړې وی!

اې اسلامي امته، پورته شئ او د دغو خاینو حکامو پر وړاندې ودرېږئ چې دغه جنایتکار رژیم یې سیوری دی، دفاع یې کوي او ساتي یې. تختونه یې راوغورځوئ چې دغه جنایتکار رژیم هم له منځه ورسره لاړ شي. د داسې دولت پر لور دعوت وکړئ چې دا پاشلی امت راټول او ستاسو غږ یو کړي!

**اې د اسلامي امت علماوو، اې د انبیاوو وارثینو:** د غزې پر ښځو چې تېری کېږي تاسو چېرته یئ!؟ په الله قسم چې د دغه غفلت لپاره به محاسبه کېږئ. الله سبحانه و تعالی به د دې سخته پوښتنه درنه کوي چې امت مو د پیغمبر لارې، د ژغورنې لارې ته سم نه کړ؛ په ذلت او ضعف کې مو پرېښود چې دا جنایتکاران یې پر ښځو تېری وکړي! حق ووایئ او له الله پرته د چا له ملامتۍ مه وېرېږئ؛ د امت د مخلصو او جلیل القدر علماوو پر لار لاړ شئ چې نومونه یې تلپاتې دي؛ عزتمند شوي او د الله سبحانه و تعالی رضایت او جنت یې ترلاسه کړي.

**اې علماوو:** د غزې جګړه د عقیدې جګړه ده؛ د اسلام پر وړاندې صلیبي جګړه ده؛ نو تاسو مو دین ته څه کړي؟ ملاتړ مو یې نه دی کړی؟ دغې جګړې وښوده چې کفر یو موټی شوی او د دغه غاصب رژیم ترڅنګ ولاړ دی؛ هغه رژیم چې د امت په زړه کې کرل شوی چې د یووالي مخه یې ونیسي او پرې نه ږدي چې د اسلام تر بیرغ لاندې راټول شي؛ یو امام حکومت پرې وکړي او د خپل رب شریعت پلی کړي. دا هغه جګړه ده چې کافر دښمن د یهودو د پوځ د بریالي کولو لپاره خپل پوځونه تیار کړي؛ د یهودو پوځ یې «نه ماتېدونکی» باله، خو طوفان الاقصی یې حقیقت برملا کړ چې ډېر ماتېدونکی دی!

کفار غواړي د فاسد یهودي رژیم حیثیت وساتي؛ ځکه خو یې دومره پوځ او تجهیزات تیار کړي چې د غزې له بېګناه خلکو غچ واخلي. مثلاً امریکا له چین او رسیې سره خپله جګړه شاته غورځولې او ژر ژر خپل بمونه او راکټونه یهودي رژیم ته را استوي چې د غزې خلک ووژني او له منځه یې یوسي. کفار، چې د خپل غربي تمدن

اوړدول غواړي، د دغه وحشي رژیم مرستې ته رادانګي چې پایښت یې تضمین کړي او د داسې دولت د راپورته کېدو مخه ونیسي چې موجودیت یې وګوابښي.

نو ایمان لرونکی امت چېرته دی!؟ د مسلمانانو هغه پوځ چېرته دی چې د خپلو وروڼو دفاع کوي او د خویندو عزت یې ساتي!؟ ایا دا هغه کار نه دی چې باید ویې کړئ؟ ایا دا د علماوو دنده نه ده چې د امت په منځ کې د مخلصینو روحیه راژوندئ کړي تر څو یوه واحده هڅه وکړي او کفارو ته وښیي چې د خپلو خویندو د عزت د ساتنې او دفاع لپاره څه کوي!؟

اشغالګرو ځواکونو د غزې د خلکو او په ټوله کې اسلامي امت د لا تحقیر لپاره په ناوړه حالت کې د نیول شوو عکسونه اخیستي او پر انټرنټ یې خپاره کړي. د بشر حقونو په برخه کې د اروپا-مدیترانې د څار سازمان د نیول شوو کسانو په اړه تر ټولو خطرناک شهادتونه ترلاسه شوي؛ دوی مستقیماً جنسي ځورول شوي او ځینو یې ویلي چې «اسرایلي ځواکونو دوی د حساسو غړو لمسولو، په زور بربنډولو او حجاب لرې کولو په ګډون په بېلابېلو بڼو ځورولي.»

نو اې اسلامي امته، تاسو چېرته یئ!؟ کمزوري شوي یئ!؟ غرور او غیرت درکې مړ شوي!؟ د نیول شوو کسانو په منځ کې کوچني ماشومان او زړې ښځې هم شاملې دي؛ ستاسو لوڼې، خویندې او میندې تر داسې ظلم لاندې دي؛ تاسو چېرته یئ!؟

موږ، د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه، په دې کې هیڅ شک نه لرو چې د امت نارینه خپل دین ته مخلص دي؛ دفاع یې کوي، ملاتړ یې کوي او بیرغ یې پورته کوي. موږ ډاډه یو چې د دوی په منځ کې داسې کسان شته چې د غزې او د غزې د ماشومانو او ښځو په اړه د خبرونو په اورېدو یې وینه په جوش راځي. اې د تر ټولو غوره امت نارینه‌وو، له دغو دوو موخو څخه یوې ته د رسېدو لپاره په خپله دنده کې ځنډ مه کوئ چې یا به بریالي کېږئ یا به شهیدانېږئ! د الله او هغه سبحانه و تعالی د دین لپاره په اخلاص دا اعلان وکړئ؛ بېشکه چې الله د هغو کسانو مل دی چې د هغه سبحانه و تعالی دین ته نصرت ورکوي. الله به تاسو د ځمکې پر سر، لکه له تاسو مخکې چې وو، خلیفه وګرځوي. الله عزیز او قوي ذات دی!

**اې د مسلمانانو علماوو:** ډار او ذلت لرې کړئ او حق ووايئ؛ امت او ځواک لرونکي کسان د ژغورنې لارې ته سم کړئ او د انبياوو د وارثينو په توګه خپله دنده سمه ترسره کړئ. د دوی لار روښانه کړئ او د حق او فتحې لارې ته يې برابر کړئ.

**اې د مسلمانانو پوځونو:** ايا په تاسو کې داسې څوک نشته چې له ځانه د ډار، ذلت او نامردۍ جامې لرې کړي او د دغو لاسپوڅو حکامو له بنده ځان خلاص کړي؛ يو مخلصانه قيام اعلان کړي چې په هغه کې د غزې د ښځو، فلسطين او ټولو اسلامي خاورو لپاره بريالی شي!؟

له الله سبحانه و تعالی غواړو چې زموږ بلنه واورېدل شي، ځواب ورکړل شي او له دې سره د ځمکې او اسمانونو رب راضي شي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر - د ښځو برخه**

**۱۴۴۵هـ.ق، د شعبان ۱۴مه**

**۲۰۲۴م، د فبروري ۲۴مه**

**ګڼه: ۲۵/۱۴۴۵**